د افغانستان اقتصادي پرمختګ راپور

# د اقتصاد د سمون او پیاوړتیا لپاره د ځوانانو له وړتیا څخه ګټه اخیستل

## د راپور لنډیز

اپریل 2025

### وروستي اقتصادي پرمختګونه او راتلونکی لیدلوری

د افغانستان اقتصاد په تدریجي توګه بېرته رغېږي، خو راتلونکی لا هم نامعلوم دی ځکه چې مالي فشارونه، د سوداګریز کسر پراخوالی، دوامداره بې وزلي او د خوړو خوندیتوب ستونزې تر اوسه پر ځای پاتې دي، چې کورنۍ تر فشار لاندې ساتي او د هر اړخیزه اقتصادي ودې مخنیوی کوي.

### د اقتصاد وروستی کړنې

**د افغانستان اقتصاد په 2024 کال کې د پرلپسې دویم کال لپاره وده وکړه، چې اټکل کیږي حقیقي ناخالص کورني تولیدات (GDP) 2.5 سلنه زیات شوي دي.** د اقتصاد بېرته رغېدل تر ډېره د کرنې په سکتور کې د ودې له امله و، خو د تولیدي او خدماتي سکتورونو وده د نامناسب سوداګریز چاپېریال، د صادراتو پر وړاندې د خنډونو، او کمېدونکو بهرنیو مرستو له کبله ټکنی وه. د خصوصي لګښتونو او په املاکو د پانګونې زیاتوالي د اقتصاد له ودې سره مرسته وکړه؛ خو په وارداتو کې د ډېرښت له امله د سوداګرۍ کسر پراخه شو، چې له کبله یې د بهرني فکتورونو په پایله کې اقتصادي زیانونه زیات شول. په ورته وخت کې، د نفوسو چټک زیاتوالی او د کډوالو راستنېدل د کاري فرصتونو او عامه خدمتونو پر وړاندې ستونزې زیږوي، چې د اقتصاد نازک حالت نور هم ژوروي.

**د بیو کمښت یا ډیفلاسیون په 2024 کال کې دوام درلود، که څه هم د 2024 کال د فبرورۍ له 9.7 سلنې څخه، د 2025 کال په فبرورۍ کې په کلنۍ توګه 0.3 سلنه ته کم شو.** د خوراکي توکو بیې په چټکۍ سره ښکته راغلې (په اوسط ډول -8.1 سلنه)، خو د غیر خوراکي توکو بیو انفلاسیون په خپل حال پاتې و. سره له دې چې د ډیفلاسیون چټکتیا کمه شوې، اقتصادي ثبات، مزد او پانګونه له ګواښ سره مخ دي، چې د اوږد مهاله اقتصادي رکود د مخنیوي لپاره بیړنیو تګلارو او مداخلو ته اړتیا لري.

### بې وزلي او د خوراکي توکو کمښت

**بې وزلي، د خوراکي توکو کمښت، او خوارځواکي لا هم جدي ننګونې دي.** سره له دې چې د مزد کچه لوړه شوې، خو د بې روزګارۍ لوړې کچې او په مېرمنو د محدودیتونو دوام د خلکو معیشت له سختیو سره مخ کړی دی. د 2025 کال په پیل کې، 14.8 میلیونه وګړي د خوراکي توکو له کمښت سره مخ دي، او خوارځواکي—چې اوس 4.7 میلیونه مېرمنې او ماشومان اغېزمنوي— مخ پر خرابېدو ده. که بیړني اقدامات و نه شي، د بشري پانګې پرمختګ به کمزورۍ شي.

### مالي ننګونې

**مالي فشارونه لا هم لوړ دي، د داخلي عوایدو کچه که څه هم په نسبي توګه زیاته وه، خو د بهرنیو مرستو د چټک کمښت د جبران لپاره بسنه نه کوي.** د پور اخیستلو محدود ظرفیت له امله، د طالبانو لنډ مهاله اداره د اوږد مهاله پراختیایي لګښتونو

د تمویل لپاره له ستونزو سره مخ ده، چې د اقتصادي ثبات لپاره د لوړو عوایدو راټولول او مالي سمون اړین دی.

### د سوداګرۍ، اسعارو، او مالي سکتور ثبات

**د 2024 کال په اوږدو کې د صادراتو کمښت او د وارداتو زیاتوالي، د سوداګرۍ او جاري حساب کسر پراخه کړ.** د وارداتو ډېرښت، صنعتي توکو ته د تقاضا د زیاتوالي او د هغو مصرفي توکو د بدیلونو له امله و چې د هېواد دننه تولیدیږي. د افغانۍ ارزښت، چې په 2023 کال کې د پیاوړو بهرنیو مالي جریانونو له امله د پام وړ زیات شوی و، په 2024 کال کې د لږ ارزښت له لاسه ورکولو څخه وروسته باثباته شو.

**د بانکدارۍ سکتور لا هم کمزوری دی، چې د ناڅرګندو مقرراتو، د نه تر لاسه کېدونکو پورونو د زیاتوالي، او د پور ورکولو محدودیتونو له ستونزو سره مخ کړی دی.** په داسې حال کې چې په 2024 کال کې د پراخه پیسو کچه 6.6 سلنه زیاته شوه، خو پور ورکول پر ځای دریدلي دي، چې له امله یې د مجموعي پورونو کچه د تېر کال په پرتله 13.6 سلنه کمه شوې، د پورونو او بانکي زېرمو تر منځ تناسب 10 سلنه ته رسیږي، چې د بانکونو کمزوری مالي منځګړتوب څرګندوي.

### اقتصادي لیدلوری او ګواښونه

**مخکې له دې چې په 2026-27 کال کې اقتصادي وده په تدریجي توګه 2.5 سلنه ته ورسیږي، تمه کیږي چې په 2025 کال کې به د بهرنیو مرستو د کمښت له امله 2.2 سلنې ته راټیټه شي.** په راتلونکي کې د مرستو کمښت ته په کتو سره، اقتصادي وړاندوینې راټیټې شوې دي. د کورنیو عوایدو پیاوړتیا، د اقتصاد متنوع کول، د خصوصي سکتور له پراختیا څخه ملاتړ، او د ځوانانو—په ځانګړې توګه ځواني مېرمنې—له وړتیاوو څخه ګټه اخیستل د پیاوړي او پر ځان بسیا اقتصاد لپاره اړین دي.

### د ځوانانو لپاره د کار موندنې ننګونې او فرصتونه

د پام وړ ستونزو سربېره، د افغانستان ځوانان د اقتصادي پیاوړتیا او ناکارول شوي ظرفیت مهمه سرچینه ده. که د ځوانانو لپاره مناسب ملاتړ او هر اړخیزه فرصتونه چمتو شي، دوی کولی شي د هېواد د بیا رغونې او اوږد مهاله ثبات لپاره مهم رول ولوبوي.

### ځوانان د کار په بازار کې

**د افغانستان اړمنې کورنۍ ماشومان، تنکي ځوانان، او مېرمنې د کار بازار ته استوي.** خو بیا هم نږدې په هرو څلورو ځوانانو کې یو بېکاره دی، او هغوی چې کار لري، په ځانګړي ډول مېرمنې د لږ مزد او محدودو کاري ساعتونو له ستونزو سره مخ دي. که د کار موندنې د فرصتونو زیاتولو او مهارتونو لوړولو لپاره بیړني اقدامات ونشي، دغه ناورین به نور هم ژور شي.

### مېرمنې او ځوانان: تر ټولو زیاتې ستونزې زغمي

**د طالبانو لنډ مهاله اداري سختو محدودیتونو مېرمنې له عام ژوند څخه لرې کړې دي، چې د دوی لپاره یې اقتصادي فرصتونه او راتلونکې کمزورې کړې دی.** اوس مهال یوازې 3 سلنه تنکۍ نجونې ثانوي زده کړې کوي، چې په راتلونکي کې د ځوانو میرمنو یو نسل د بې وزلۍ او په نورو د تکیې له ګواښ سره مخ کوي.

**د افغانستان ځوان نفوس چې یو مهال د هېواد مهمه پانګه ګڼل کېده، اوس د بې ثباتۍ لامل کېدلی شي.** تر 2030 کال پورې به 1.7 میلیونه نور کار غوښتونکي لا د مخه محدود، د کار بازار برخه شي—چې اوسنی مخ په ځوړ اقتصادي وضعیت یې نه شي جذبولی.

### د ننګونو په فرصتونو بدلول

**د ژوندي پاتې کېدو لپاره کورنۍ خپل ډېر غړي کار ته استوي.** د 2020 او 2023 کلونو تر منځ په کاري قوه کې د ځوانو مېرمنو ګډون 32 سلنه زیات شو—دغه زیاتوالی د فرصتونو له امله نه، بلکې له مجبوریته و.

**ځوان کار کوونکي یوازې په څو سکتورونو، چې عاید یې کم دی تمرکز کوي.** ډېری ځواني مېرمنې په کور کې په لاسي صنایعو تکیه کوي، په داسې حال کې چې ځوان سړي د محدودو فرصتونو له کبله کوچني سوداګریز فعالیتونه پیلوي.

**د خپلواکه کار کچه، په ځانګړې توګه په میرمنو کې زیاته شوې ده، خو ډېری وخت د حقیقي سوداګرۍ پر ځای د ژوندي پاتې کېدو هڅه ګڼل کیږي.** په تخمیني توګه 93 سلنه خپلواکه کار کوونکي ځواني مېرمنې د کور دننه د لږ تولید او د ژوندي پاتې کیدو په کچه کار کوي. په داسې حال کې چې د خصوصي سکتور مزد زیات شوی دی، خو لا هم بسنه نه کوي، ځکه شاوخوا یو پر دریمه برخه ځوانان، او نیمایي ځواني مېرمنې په کافي اندازه د کار کولو ساعتونه نه شي تر لاسه کولی.

**تر ټولو اندېښمنوونکی حقیقت ښایي دا وي چې بې کارۍ په نامتناسب ډول د لوړو زده کړو لرونکي وګړي زیات اغېزمن کړي، چې د بې کاره ځوانانو 55 سلنه ځواني مېرمنې دي.** د بې کاره وګړو د لوړو زده کړو کچه، د مهارتونو او شته دندو تر منځ لوی توپیر څرګندوي—چې دا وضعیت ناهیلی او احتمالي بې ثباتۍ ته لار هواروي.

### په یو پېچلي چاپېریال کې د وړاندې تګ لار

**خصوصي سکتور هغه ځای دی چېرته چې د کوچنیو سوداګریو د پیل او پراختیا، په خصوصي شرکتونو کې د کار**

**موندلو، د افرادو او سوداګریو د تولیدي وړتیا لوړولو، د زده کړو او کاري تجربې ترلاسه کولو له لارې د دایمي دندو فرصتونه رامنځته کېږي.**

**که څه هم د افغانستان پېچلی وضعیت ستړې ننګونې لري، خو نړیوالې تجربې هیله بخښونکې دي چې ټاکل شوې تګلارې له ځوانانو سره مرسته کولی شي تر څو په خصوصي سکتور کې غوره دندو ته لاسرسی ولري.** په هیله بخښونکو تګلارو کې لاندې چارې شاملې دي:

- **د اقتصادي مشارکت پروګرامونه:** د نغدي مرستو، روزنې، مشورې، او شتمنیو ګډ ملاتړ، تر څو زیان منونکو ډلو ته د کوچنیو کاروبارونو د پیل او دوامداره عاید تر لاسه کولو زمینه چمتو کړي.
- **د مهارتونو زده کړه:** د تخنیکي، ډیجیټلي او سوداګریزو مهارتونو عملي زده کړه چې په بازار کې د محدودو فرصتونو سره سمون ولري.
- **مالي مشارکت:** د ځوانانو له خوا پر مخ وړل کېدونکو سوداګریو ته د کوچنیو پورونو او سپما فرصتونه، چې د رسمي اقتصاد په حاشیه کې فعالیت کوي.
- **د کار زده کړې خدمتونه:** سوداګریو ته د هڅونې په موخه امتیاز ورکول تر څو ځوان کار کوونکو ته روزنه او دنده ورکړي، چې په محدود اقتصاد کې کار موندنې ته لار هواره کړي.
- **په اقتصاد کې د مېرمنو ګډون:** په کور کې د کار کولو څخه ملاتړ او د ډیجیټلي لاسرسي پراختیا لپاره هڅې، تر څو د خوځښت محدودیتونه کم، او د عاید فرصتونه پراخه کړي.

**له معنا لرونکي کار او هیلو څخه پرته، یو نسل د لا ډېرې بې ثباتۍ لامل کېدلی شي.** که ځوانانو ته د مشارکت فرصت چمتو شي، د افغانستان د ځوان نفوس پیاوړی ظرفیت کولی شي ثبات او رغونه رامنځته کړي.